واحد فقیري ۲۰۱۶/۰۳/۰۹

# د سولې خبرې او پنچره ډيپلوماسي

که څه هم د طالبانو وروستۍ اعلاميه په اسلام آباد کې د سولې په راتلونکو خبرو کې پر نه ګډون باندې ټينګار کوي، خو اغلب ګومان دا دی چې د کابل حکومت او طالبانو تر مينځ به بالاخره مخامخ د سولې خبرې په اسلام آباد او يا کوم بل ځای کې ډېر ژر يو ځل بيا پيل سي. ځکه دا ځل به د امريکا تلوار او فشار چا ته د دې جرات ور نه کړي چې د مذاکرې ميز ته را نه سي. دغه راز غالب ګومان دا هم دی چې امريکا غواړي چې د افغانستان له ۱۵ کلن جنجاله ځان په څه آب او عزت خلاص کړي، خو اوس پوښتنه دا ده چې آيا د واشنګټن دا هيله به پوره سي او کنه؟ زما ګومان دا دی چې واشنګټن به دا واري خپل عظيمي کوښښ وکړي چې د دې ځل خبري څه نتيجه ورکړي. ځکه امريکايان د افغانستان له جنګه ستړي سوي دي. له يوې خوا د افغانستان د جنګ مصارف زيات دي او له بلې خوا حاصل ئې صفر دی. خو دا احتمال بيخي ډېر دی چې په افغانستان کې به د امريکا دا روان عذاب او مصيبت ژر ختم نه سي.

ولې؟

څرګنده خبره ده چې په افغانستان کې د امريکا اوسنۍ پاليسي ناکامه ده. بناً واشنګټن فيصله کړې ده چې له طالبانو سره له خبرو پرته بله چاره نسته. امريکا نور طالبان خپل اول درجه دښمن نه ګڼي، بلکې د طالبانو سره سازش ته چمتو ده. بل دا چې دا خبره هم ښکاره ده چې په کابل کې د امريکا په ملاتړ اوسنی نصب سوی حکومت د دې جوګه نه دی چې پرته د امريکا له نظامي ملاتړ څخه په کابل کې ډېره موده ژوند او ګوزارن وکړي. فرضاً که چيري دا حکومت سقوط وکړي، په اغلب ګومان احتمالي ځايناستی ئې طالب دی. دا به نه يوازې د واشنګټن له پاره لوی او تاريخي شرم وي، بلکې په سيمه کې به خلګ داسې وانګيري چې پنځو لغړو طالبانو د جهان لوی سوپر پاور مات کړ. دا به ضرور د امريکا برم ته لويه صدمه ورسوي. نو بناً، واشنګټن پرته له مذاکراتو بل الټرنټيف نه لري.

واشنګټن خپل ټول اميد د سولې په خبرو پوري ترلي دي. او ښايي دا پلا د سولې د مخالفانو سره جدي چلن وکي.

همدا راز، داسې ښکاري چې پاکستان هم مجبوره دی چې د زياتيدونکي مذهبي افراطيت او ورسره مل تشدد او عامي تباهي غم وخوري. په عمومي توګه د پاکستان مدني ټولنه د افغانستان او هند پر خلاف

د اسلام اباد د مذهبي افراطيت د ملاتړ او تشويق له پاليسی سره جوړه نه ده. دننه په پاکستان کې د مذهبي افراطيانو وحشتناکه حملو د پاکستان خلګ د اسلام اباد د افراطيت محوره پاليسۍ څخه بيزاره کړي دي. اګاه او پوه پاکستانيان ويني چې وطن ئې کرار کرار په سيمه او جهان کې منزوي کيږي. اقتصاد ئې د دوامداره رکود په حال کې دی او په عين زمان کې د هند او امريکا روابط په زياتيدونکي توګه توسعه او پراخيږي. د ايران سره د امريکا نوي پراخيدونکي روابط هم بايد هرومرو پاکستان څه نور وارخطا کړی وي. نو بنا، اسلام اباد د سولې د خبرو ملاتړ کوي.

په سيمه کې، له هنده رانيولې بيا تر روسيې او ترکيې پوري په افغانستان کې د ثبات او د سولې د خبرو پلويان دي. ټول په افغانستان کې ثبات د خپل ځان امن ګڼي.

خو د سولې د فعلي خبرو يو لوی نقصان دا دی چې په ټولو خواوو کې ډيپلوماسي کمزوري او بې نوم او نښانه ده. د دخيلو خواوو يوې خوا هم وتلي او نامتو ډيپلوماتان و دې ماموريت ته نه دي موظف کړي، بلکې د ټولو خواوو ډيپلوماتيک هيئت دونه ګمنامه دي چې د پيداکولو او يادولو له پاره بايد خامخا ګوګل سي.

د ډيپلوماتيک ضعف په ارتباط، اول د کابل حکومت يو لاس نه دی. دننه په حکومت کې د سولې د خبرو سره مخالفت زيات دی. اکثره وارلاډان سوله نه پيژني او عموما ترې ډارېږي. د دې تر څنګ، د افغان حکومت عمومي ګډوډي او بې کفايتي د سولې په پروسه کې هم ليدل کيږي. داسې ښکاري چې په کابل کې هيڅوک د دې کار مسول نه دی او د هر څه په باره کې په اخر ساعت کې تصميم نيول کيږي. داسې برېښي چې د افغانستان خارجه وزارت د سولې له پاره نه کومه مشخصه ستراتيژي لري، نه کوم خاص فکري او سياسي چوکاټ ورته لري، بس هر څه د الله په توکل روان دي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په خير و لولئ

دغه راز، په طالبانو کي هم ګډوډي ډېره سوې ده. د ملا عمر د مرګ تر اعلان راوروسته، په هغوی کي نفاق او جنګونه ډېر سوي دي. هره ورځ د سولي په ارتباط ضد او نقیض دریځونه نیسي. که څه هم د هغوی د قطر په دفتر کي د طیب آغا له لیري کیدو راوروسته عباس ستانکزی مقرره سوی دی، خو ګډوډي زیاته سوې ده.
په همدې لړ کي، تر ټولو مهمه دا ده چي د افغانستان په مورد کي د امریکا دیپلوماسي هم له کیفي لحاظه کال په کال راټیټیږي. کاوالټي ورو ورو خرابیږي، او عموما بې تجربه ځوانانو ته لوی مسولیتونه د موقت وخت له پاره ورسپارل کیږي. د امریکا په خارجه وزارت کي د افغانستان ډیسک د پخوا په شان بې نظمه او بې جهته غوندي ښکاري. د افغانستان له پاره اکثره امریکایي دیپلوماتان بې نوم او نښانه کسان دي. زیاتره ئې د افغانستان سره چندان علاقه نه لري او مازي خپله ورځ تیروي. ځیني ئې صرف د دې له پاره په افغانستان کي کار کوي چي ژر تر ژره ترفیع ترلاسه کړي، معاش ئې جګ سي او د تقاعد کولو له پاره ئې کلونه او وخت راکم سي.
نوبناً، زما ګومان دا دی چي د سولي له پاره شرایط آماده دي، خو په ټولو دخیلو خواوو کي دیپلوماسي ضعیفه او پنچره بویه.

والسلام
واحد فقیري – واشنګټن
مارچ ۶، ۲۰۱۶


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ